الدرس الأول — اولنۍ درس

التوحيد وأنواعه — توحيداو قسمونه

توحيد : هغه کارونه چې الله تعالی پورې خاص وی ، په هغې کښې الله تعالی یک یو ګڼړل ، اود عبادت ټول قِسمونه الله تعالی لره خاص کولو ته توحید وئیلی شی ، دا هغه لوئي کار دی چې الله تعالی پدی حکم کړی دی ، الله پاک فرمائي :(ترجمه) اووايه هغه الله پاک یک یو دی [الإخلاص:١]، الله پاک فرمائي (ترجمه) نه دی پیداءکړی ما پیریان او انسانان مګردی دپاره چې زما بندګی وکړی [الذاريات: ٥٦] ، الله پاک فرمائي :(ترجمه) او بندګی وکړئي د الله پاک او مه شریک کوي د هغه سره هیڅ شی [ النساء:٣٦] .

توحیدپه دری قسمه دی (١)توحید ربوبیت (٢) توحید ألوهیت (٣) توحید أسماء والصفات.

**(١) توحيد الربوبية :** ددی کائناتو په جوړولو او چلولو کښې الله پاک یک یو ګڼړل چې الله پاک روزی ورکونکې ژوند ورکونکې دے ، او مرګ راوستونکی دی او دالله پاک په اختیار کښې د زمکې او د آسمانونو بادشاهی ده ، الله پاک فرمائي:(ترجمه) آیا شته دی پیداء کوونکی سیواء د الله پاک نه چې روزی درکړی تاسو ته د آسمان او د زمکې نه ، نشته حقدار دبندګئ سیواء د هغه نه نو څرنګه اړولے کیدیشئ تاسو [فاطر:٣ ]. بل ځائی الله پاک فرمائی : (ترجمه) خیرونه (فائدي) ورکونکے هغه ذات دي چې په لاس کښې ئے بادشاهی ده [ الملك: ١ ] او هغه په هر څه باندي قدرت لرونکےدي ، پدی خبره یقین کول ضروري دي چې ددی ټول مخلوق نظام چلولو کښې الله پاک یک یو دی ، الله پاک فرمائي:(ترجمه) خبر شئ چې الله پاک لره اختیار د پیداءکولواو حکم کولو دی ، الله پاک برکت ورکونکے دی ، پالونکی د ټول عالم دی . [الأعراف :٥٤] د الله تعالي دا قسم تدبیر او تصرفات تمام مخلوق ته شامل دي ، ددي قسم توحید نه انکارڅوک هم نکوی مګر څه لږ خلق شته چې ظاهرًا ئی خو انکارکړی دی لیکن دننه زړونه ئی پدی اقرار کوی ، لکه څرنګه چې الله پاک فرمائي : (ترجمه) او انکار اوکړو دوی د معجزاتو نه او یقین کړی وو په هغې باندی زړونو د دوی دوجې د زیاتي او لوئي نه [النمل : ١٤] صرف په توحید ربوبیت باندی اقرارکول اقرار کونکي ته فائده نه ورکوی څرنګه چې مشرکانو ته په توحید ربوبیت باندی اقرارکولو څه فائده ورنکړه ، دهغوی په باره کښې الله پاک فرمائی :(ترجمه) او که چری تپوس اوکړی ته ددوی نه چې چا پیداء کړي دي آسمانونه او زمکه او دخپل حکم لاندی کړی ئي دی لمر او سپوږمئ خامخا دوی به وائي ، الله پاک ، پس څرنګه اړولی شی دوی دحق نه [العنكبوت:٦١].